التقوی د لوړو زده کړو موسسه
د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی
حقوقي علومو او قضيي علومو څانګه

د حقوقی او قضایی علومو څانګې تطبيقي راپور

کال.......................................................................................................۱۴۰۱

التقویٰ د لوړو زده کړو موسسه

**ALTAQWA INSTITUTE OF HIGHER EDUCATION**

**کلني اجراآتو راپور**

**From** : د حقوقی او قضایی علومو دیپارتمنت

**To** : د حقوقو او سیاسی علومو پو هنځی ریاست

**Reporting Period** : ۱۴۰۱/۰۱/۰۳-۱۴۰۱ /۱۲ / ۲۹

عـــــــــــ

| **Conducted Activities /during the Reporting Period:** ترسره شوي مهم کارونه |
|---|
| 1. د حقوق او قضايي علومځانګې هغو محصلينو، چې د دفاع څخه وروسته يې مونوګرافونه چاپ کړي وو او د ځانګې آمريت ته يې سپارلي وو، د ځانګې د آمريت له لوري رسماً کتابتون ته د محصلينو د مطالعې په موخه واستول شو.<br>2. د حقوق او قضايي علومځانګې د مونوګرافونو کمېټه مو د اړتيا پر بنا تغير کړه؛ ځکه پخوانيو غړو د کمېټې غونډو ته رسيده ګي کولی نشوه، چې نوي غړي يې محمد ظهور شريفي، مجيدالله ماموند، شکرالله دانشمل، جميل الرحمن زاهد او عزيزالدين نجات ټاکل شوي دي.<br>3. د څېړنې مرکزي کمېټې په غوښتنه مو درې تنه استادان هر يو عزيزالدين نجات، بختيار حليمي او محمد ظهور شريفي څېړنې ميتودولوژي سيمينار ته معرفي کړي دي، د يادولو وړ ده، چې ياد سيمينار په آنلاين بڼه د هندوستان هېواد د يوه استاد له خوا وړاندې شو.<br>4. د حقوقو ځانګې هغه محصلين،مکلف دي چې تر دفاع وروسته د مناقشينو استادانو ملاحظات اصلاح کړي او د اصلاح څخه وروسته يې په هارډ او سافټ شکل د ځانګې آمريت ته وسپاري، چې د ځانګې د آمريت له لوري د يادو محصلينو سافټ او هارډ مونوګرافونه د پوهنځي تدريسي مديريت ته رسماً استول شوي دي. |

5. د حقوقو ځانګې هغه محصلین چې مونوګرافونه یې د لارښود استادانو له خوا تائید شوي وو، د ځانګې د آمریت له لوري ورته دوه تنه داخلي او خارجي مناقشین استادان ټاکل شوي دي، او د ددفاع نېټه یې د ځانګې د آمریت له لوري مشخص شوې ده او په مشخصه ورځ ورځخه د استادانو په شتون کې دفاع اخېستل شوې ده ده.

6. د حضوري او آنلاین زده کړو پر مهال مو د مهال ویش مطابق له درسي بهیر څخه نظارت کړی دی او د نظارت راپور مو د پوهنځي له ریاست سره شریک کړی دی.

7. هغه محصلین چې د مونوګرافونو د موضوعاتو په موخه یې عرایض سپارلي وو، د هغوی عریضې کتل شوي، د سلګونو عریضو له منځه (۲۴۵) تنه محصلینو موضوعات د عدم تکرار په صورت کې تائید او د موضوعاتو د لارښوونې لپاره یې د مسلک مطابق لارښود استادان ټاکل شوي دي. البته دغه موضوعات په لسو اونیزو غونډو کې تائید شوي دي.

8. هغه محصلین، چې تر دفاع وروسته یې د اسناو په پار غوښتنلیکونه وړاندې کړي وو او د مؤسسې له لوري دی عدم مسؤلیت فورمه ورکول شوې وه، نو د ځانګې له لوري یې د عدم مسؤلیت فورمې لاسلیک شوې دي.

9. د (۱۴۰۱ش) کال د حقوقي او قضایي علومو ځانګې د تدریس بهبود پلان او عملیاتي بلان د تطبیق راپور جوړ شوی دی، او په شوری کې د تائید وروسته د پوهنځي ریاست ته استول شوی دی.

10. د حقوقي او قضایي علوم ځانګې د آمر د ځان ارزونې پوښتنپانه جوړه شوې ده، چې تر تائید وروسته د استادانو پر مټ ځان ارزونه ترسره شوې او پایله یې د پوهنځي د ریاست سره شریکه شوې ده.

11. د مهال ویش مطابق، د مختلفو موضوعاتو په اړه د حقوقو ځانګې (۱۲) میاشتنې جلسې شوي دي او د دې تر څنګ د پوهنځي او مؤسسې په میاشتنۍ علمي شورى ګانو کې هم ګډون شوی دی.

12. د حقوقو ځانګې د (۱۴۰۱ش) کال د کړنو راپور او عملیاتي پلان مو د پلان او پالیسۍ کمېټې او تضمین کیفیت کمېټې په غوښتنه، یادو کمېټې ته د مکتوب له لارې استولی دی.

13. د څانګې په دفترونو کې مو د استادانو دوسيې د چيک ليست مطابق چمتو کړي او بشړې کړي دي. او هغه استادان، چې اوس له مونږ سره دندې نه لري، د هغوی دوسيې مو د مکتوب له لارې د مؤسسې د آرشيف مديريت ته استولي دي.

14. د تضمين کيفيت په غوښتنه مو د عملي کړنو، سيمينارونو او ورکشاپونو پلانونه جوړ کړي او د شورى له خوا مو تائيد کړي دي.

15. د څانګې اړونده د تضمين کيفيت معيارونو اړونده اسناد مو چمتو کړي دي او په ځانګړې دوسيه کې مو ځای پر ځای کړي دي.

16. د حقوقی او قضايي علوم څانګې شپږ تنه محصلين مو عملي زده کړو ته معرفي کړي دی، پنځه تنه مو د ننګرهار ولايت استيناف محکمې او يو تن د ننګرهار ولايت د عدليې رياست ته معرفي کړي دي.

17. د مؤسسې د تحصيلي نصاب کمېټې د غوښتنې له مخې مو، د حقوقو څانګې د تدريسي کتابونو او چيپټرونو کتلاک جوړ کړی، چې پکې د کتاب عنوان او د کتاب او لکچرنوټ ليکونکی مشخص شوي دي، او رسماً مو د مؤسسې تحصيلي نصاب کمېټې ته استولي دي.

18. د پوهنځي د څېړنې کمېټې د رسمي غوښتنې له مخې د څېړنې لپاره دوه تنه استادان، هر يو محمد عمران دولتزی او بخيتار حليمي معرفي کړي دي او د هغوی مقالې مو رسماً د څېړنې کمېټې ته استولي دي.

19. د پوهنځي د نصاب کمېټې د رسمي غوښتنې له مخې د استادانو د کورس پاليسو راپورونه، د يادې کمېټې سره شريک کړي دي.

20. د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د پلان او پاليسی کمېټې د رسمي غوښتنې له مخې مو، د استادانو پر مټ د څانګې لنډمهاله، منځمهاله او اوږد مهاله اهداف مشخص کړي دي او د توحيد په موخه مو يادې کمېټې ته رسماُ استولي دي.

21. د  پوهنځي د څېړنې کمېټې د غوښتنې له مخې مو، د (۱۴۰۱) کال تائید شوو مونوګرافونو لیستونه چمتو کړي دي او رسماً مو هغوی ته استولي دي.

22. د حقوقو څانګې د استادانو د کورس پالیسیو د تطبیق راپور، مو د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي له لارې د پوهنځي نصاب کمېټې ته استولی دی.

23. د (۱۴۰۰) کال لومړۍ،دوهمې او درېیمې ربعې او څلورمې ربعې راپور مو حقایقو ته په پام سره، په منظم شکل جوړ کړی دی او ټول شواهد مو د راپور سره نښلولي دي.

24. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د حقوقو څانګې د آمر ځان ارزونه ترسره شوې ده، چې لومړی (۱۷) پوښتنې جوړې شوې وې او پوښتنپاڼې له درنو استادانو سره شریکې شوې وې، او بیا د یادو استادانو ځوابونه تحلیل شوي دي او مثبت او منفي ټکي په ګوته شوي دي.

25. د مؤسسې د علمي مجلې لپاره مو د محترم استاد محمد ابراهیم سکندري علمي مقاله استولې ده، چې د یادې مقالې موضوع د رهن او بیع الوفاء تر منځ د توپیرونو څېړنه وه، د نوموړي استاد  موضوع مو د غطیو د اصلاح وروسته په مجله کې د خپرېدو په موخه سپارلې ده.

26. د قضاء او څارنوالي څانګې په (۱۳۹۶) تحصیلي نصاب جوړ کړ او په (۱۳۹۷) کال یې د تائید په موخه د لوړو زده کړو وزارت ته واستاوه، مګر د لوړو زده کړو وزارت له خوا پکې شمېر ملاحظات لیکل شوی وو او د هغې د اصلاح غوښتنه شوې وه، د حقوقي او قضايي علومځانګې هم د ټولنې د اړتیا مطابق او د بازار د غوښتنې په پام کې نیولو سره له ټولو ښکېلو خواوو څخه نظریات راټول کړل او د تحلیل وروسته یې د ټولنې د ا ړتیا او د بازار غوښتنې په پام کې نیولو سره یاد اصلاحات تائید کړل او په [(۴) – ۱۴۰۱/۴/۲۰] ګڼه شورى کې تائید شول او تر تائید وروسته مو د مکتوب سره مل، د نور اجراآتو په پار د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ریاست ته استولي دي.

27. د حضوري زده کړو پر مهال د درسي بهیر څخه نظارت شوی دی او د درسي بهیر ستونزې حل او فصل شوي دي. د درسي بهیر راپور د پوهنځي له ریاست سره وخت په وخت شریک شوی دی.

28. د حقوقو څانګې د خزاني سمستر لپاره مو د یادې څانګې اړونده کورس پالیسیانې د څانګې په شوری ګانو کې تائید کړي دي. او د محصلینو په واک کې مو ورکړي دي.

29. استادانو ته د هغوی د مسلک مطابق، د ساعتونو په ویش کې د تقرر، انفکاک او ترفیعاتو له کمېټې سره همکاري شوې ده او د مسلک مطابق استادانو ته مضامین ورکړل شوي دي.

30. د امتحاناتو کمېټې د مسؤل په مشرۍ په ځانګړې کمېټه کې د محصلینو پارچې بیا وکتل شوې او پایله یې د مؤسسې له ریاست سره شریکه شوه.

31. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ټولو ټولګیو ته د لارښود استادان وټاکل شول، تر څو محصلینو ته د تحصیل په اوږدو کې اړینې مشورې ورکړي.

32. د حقوقي او قضایي علومځانګې له لوري د محترم استاد حمدالله حمیدي په همکارۍ د محصلینو لپاره د پېښې د ځای تمثیل ترسره شو، چې ګڼو محصلینو او استادانو هم پکې برخه اخېستې وه.

33. د اداري او مالي معاونیت د کلنیو فعالیتونو د اړتیا وړ بودیجې فورم د څانګې د استادانو په مرسته چمتو او په شورۍ کې تر تائید وروسته اداري او مالي معاونیت ته واستول شو.

34. د څېړنې کمېټې په غوښتنه د اونیزو مقالو د لیکوونکو استادانو نوملړ جوړول او مکتوباً یې ریاست ته استول؛

35. د دېپارتمنت شورۍ دایروول او د افغانۍ د بې ثباتۍ عوامل او د ثبات حل لارې چارې تر سره لیک لاندې د مقاله لیکنې لپاره د محترم استاد عبدالحمید سیرت ټاکل او مکتوباً یې د پوهنځي ریاست ته استول؛

36. د پوهنځي د تضمین کیفیت کمېټې سره په ګډه، مو د استادانو لپاره د ځان ارزونې فورمې پښتو ته ژباړلي او د ډیزاین څخه وروسته مو، د ازموینې کمېټې په واسطه چاپ او استادانو ته مو ویشلې دي.

37. محترمو استادانو ته د ځان ارزونې د فورمو توزیع کول؛

38. د محصل د شکایت له مخې په سهار دوهمې دورې پنځم قضایي سمستر کې د استاد عبدالحمید سیرت پر وړاندې شکایت کړی وو، چې د څانګې د آمریت له لوري ورته درې کسیز هیئت وټاکل شو، چې په رأس کې یې استاد عزیزالدین نجات، حبیب الرحمن سربلند او لطف الله عزیزي یې د غړو پتوګه وه، د استاد د تدریس ارزونه وشوه، محصل په ادعا کې کاذب وو. د یادې ارزونې راپور مو د نظم او ډسپلین کمېټې ته استولی وو، چې د هغوی د فیصلې له مخې محصل جبراً د مازدیګر دورې ته تبدیل شو.

39. د نصاب مرکزي کمېټې د غوښتنې له مخې مو، د حقوقي او قضایي علومځانګې اړونده مضامینو کورس پالیسیانې د مؤسسې د نصاب کمېټې ته واستولې.

40. (د اساسي قانون د تدوين اړتیا، منطق او ګټې) سیمینار، چې د استاد خوشحال جواد له لوري وړاندې شو، د لوړو زده کړو وزارت د علمي معین سرپرره پکې د مؤسسې رهبرۍ، درنو استادانو او محصلینو ګډون کړی وو، د څانګې له لوري استاد ته د سیمینار د وړاندې کولو ټول لازم سهولتونه برابر شوي وو او سیمینار په منظم او ښه شکل سره پای ته ورسېده.
41. د حقوقو او قضايي علومڅانګې له لوري د ښځینه محصلینو د ظرفیت لوړونې په پار، د حقوقي کلینیک په مرسته د جزايي تمثیلي محاکمې برنامه په لاره اچول شوې وه، چې د تمثیل د وړاندې کولو ټولې اړینې لارښوونې د محترم استاد محمد ابراهیم صدیقي له لوري شوې وې. غونډه د محصلې خدیجې له لوري د قرآن پاک په تلاوت سره پیل شوه، ورپسې د مؤسسې رئیس استاد خوشحال جواد له لوري د عملي زده کړو په ارزښت خبرې وکړې او استاد او محصلینو دغه هڅه یې وستایله. بیا د محصلینو له خوا د برنامې تمثیل وړاندې شو، چې د تمثیل په پای کې د حقوقو او قضايي علومڅانګې د آمر له لوري د محصلینو له خوا وړاندې شوی تمثیل وستایه او هغوی ته یې په راتلوونکي کې د لا ښه تمثیل سپارښتنې او لارښوونې وکړې.
42. د یو کال په تېرېدو سره په مؤسسه کې د هئیت په حضور کې د ازموینو پارچې سوځول کېږي، د تدریسي مدیریت په وړاندیز او د مؤسسې د رئیس په حکم یادې پارچې وسوځول شوې، چې د حقوقو او قضايي علومد آمر سرپرره نورو مسؤلینو هم پکې ګډون درلود.
43. د درې تنو استادانو(عزیزالدین نجات، محمد عمران دولتزي او بختیار حلیمي) په مرسته مو د څانګې په آمریت کې د استادانو د دوسیې له مخې ارزونه وکړه، د ارزونې پایلې مو تحلیل او تحلیلي راپور مو د پوهنځي له ریاست سره شریک کړ.
44. د التقوی د لسمې کلیزې په ویاړ غونډه جوړه شوې وه، چې د فرهنګي کمېټې سره په ګډه مو د د غونډې په تنظیم کې برخه اخیستې وه.
45. د حقوقو او قضايي علومڅانګې استادان ته مو لارښوونه کړې،تر څو د وزارت له لوري د جوړ شوي ګوګل فام ډک کړي او د ګوګل فام د ډکولو څخه مو د پوهنځي ریاست ته ډاډ ورکړی دی.
46. د (۱۴۰۰ش) کال اونیز، ماهوار، ربعوار او کلنی راپور مو جوړ کړی دی او مستند راپور مو د پوهنځي له ریاست سره شریک کړی دی.
47. د حقوقو او قضايي علومڅانګې د فارغانو په پوهنتوني غونډو کې مو ګډون کړی دی.
48. د حقوقو پوهنځي د تدریسي مدیریت څخه مو د ناکام، محروم، غایب او کامیاب محصلینو احصائیه ترلاسه کړې او په څانګړې دوسیه کې مو ځای پر ځای کړې ده.
49. د حقوقو پوهنځي ریاست او د مؤسسې د کیفیت د تضمین آمریت ته د تدریس د کیفیت د اصلاحي ارزیابۍ تحلیلي راپور مو استولی دی.
50. د لوړو زده کړو وزارت د چیک لیست مطابق، چې (۹۸) موارد وو، مواد مو چمتو کړي او د پوهنځي د ریاست سره په ګډه مو په دوسیو کې ځای پر ځای کړي دي.

51. د پوهنځي د رياست سره په ګډه د استادانو د اړتيا تشخيص او درسي ساعتونو ويش کې د پوهنځي له رياست سره همکاري شوې ده.
52. د حقوق او قضايي علومځانګې هغه محصلين، چې د څانګې د انتخاب په پار يې فورمې څانګې ته راوړي وې، د څانګې د آمريت له لوري ټولې فورمې لاسليک شوې دي.
53. د (۱۴۰۱ش) کال د تدريس د بهبود پلان، عملياتي پلان، د عملي کړنو پلان او سيمينارونو پلان جوړ شوی دی او د څانګې او پوهنځي د شورى ګانو له لوري تائيد شوي دي.

| **Plan for next monthly:** د راتلونکې کال کاري پلان |
|---|
| 1. د استادانو د کمبود تشخيص او د تقرر پيشنهاد کول؛<br>2. د مونوګرافونو د موضوعاتو ټاکل، د مونوګرافونو ثبتول او د لارښود استادانو ټاکل؛<br>3. د محصلينو د مونوګرافونو دفاع اخېستل؛<br>4. استادانو ته د ظرفيت لوړونې په پار د سيمنارونو برابرول؛<br>5. تدريسي مديريت ته د دفاع شوو مونوګرافونو مکتوبي لېږل؛<br>6. د ډيپارتمنت شورى ګانې دايرول او د پوهنځي او مؤسسې په علمي شورى ګانو کې ګډون کول؛<br>7. عملي زده کړو په موخه، محصلين اړونده ادارو ته معرفي کول؛<br>8. د حقوق کلينيک سره د تمثيلي برنامو په تطبيق کې مرسته کول؛<br>9. د علمي کادر د غړو لپاره د سيمينارونو، ورکشاپونو او عملي کارونو د اجراء زمينه برابرول؛<br>10. د ډيپارتمنټ نورې عادي چارو اجراء کول؛<br>11. |

| **Challenges/ستونزې** |
| --- |
| 1. د مستقل دفتر نه شتون؛<br>2. اجرائیه مدیر د نشتوالي له کبله د کاري حجم زیاتوالی<br>3. د څانګې د مستقل خدمه نشتون؛<br>4. د استادانو د ستاف روم نه شتون؛<br>5. په کتابتون کې د مسلکي کتابونو کموالی؛<br>6. د دفتر د اړونده الماریو کموالی؛ |

| **Recommendation/وړاندیز** |
| --- |
| 1. د کارونو د ښه مخته تګ لپاره باید د حقوقو څانګې لپاره مستقل دفتر جوړ شي، تر څو د حقوقو د څانګې لرلید او ماموریت، د دندو لایحه او نور اړونده ضروري اسناد په دیوالونو نصب شي او همدارنګه د دوسیو لپاره کافي الماری ځای پر ځای شي.<br>2. دا چې د استادانو شمېر ډېر زیات دی، نو باید د استادانو لپاره ستاف روم جوړ شي، تر څو د څانګې په دفتر کې له ناستې څخه ډډه وکړي او مونږ خپل کارونه په سمه توګه مخته یوسو.<br>3. د امکان په صورت کې د استادانو د علاقې په اساس، باید مضامین ورکړل شي، تر څو هغوی په خپله برخه کې د مضمون اړونده مقالې، څېړنې او کتابونونه ولیکي. |


**رشید الله شینواری**

حقوقو څانګې آمر

Mob: +93 0785603379 Email: Rasheed.shinwari2014@gmil.com